Asylum Support Partnership
help and advice

Pushto

March 2010

# د يوازې نغدې مرستې لپاره درخواست کول:
# له کورنۍ يا ملګري سره ژوند کول

که تاسې اوسمهال د بريتانيې د سرحدونو ادارې (UKBA -UK Border Agency) څخه هستوګنځی او نغدې مرستې دواړه ترلاسه کوئ او غواړئ چې خپل هستوګنځی پرېږدئ او له کورنۍ يا ملګري سره ژوند وکړئ، بايد د خپل ځای له بدلولو مخکې UKBA ته خبر ورکړئ. که د UKBA لخوا درکړ شوي لومړنې هستوګنځې کې اوسېږئ بايد د خپل هستوګنځي برابرونکي ته هم خبر ورکړئ. په دي کار کې پاته راتلل کيدای شي دا پايله ولري چې UKBA ستاسې نغدې مرسته بنده کړي.

دا لاربنود دا لاندې ټکې بيانوي:

- د اوسيدنې ځای بدلول به ستاسې د UKBA څخه په ترلاسه کيدونکو مرستو باندې څه اغيزه ولري
- بل ځای ته له تللو مخکې بايد کوم ټکي په پام کې ونيسئ
- له کورنۍ يا ملګرې سره د اوسيدلو لپاره له UKBA څخه څه ډول د اجازې غوښتنه وکړئ
- ستاسې د غوښتنې د ملاتړ لپاره د کومو اسنادو اړتيا ده
- موږ څنګه کولای شو له تاسې سره مرسته وکړو

**آيا له يوه ملګري يا کورنۍ سره ژوند کول به په هغو نغدې مرستو چې زه يي له UKBA ترلاسه کوم، اغيزه ولري؟**

مهرباني وکړئ او دا خبره په پام کې ولرئ چې UKBA د اوسيدنې د ځای د کورنۍ يا ملګري د هستوګنځي يا بلونو لپاره پيسې نه ورکوي. په دې توګه دا مهمه ده چې ستاسې ملګرې يا کورنۍ له تاسې نه د کرايې ورکولو يا د بلونو د ورکړې لپاره د پيسو تمه ونلري.

**آيا کولای شم له داسې کورنۍ يا ملګرې سره ژوند وکړم چې د بريتانيې په کومه بله سيمه کې اوسيږي؟**

هو، تاسې کولای شئ غوښتنه وکړئ چې له ملګري يا د کورنۍ غړي سره ژوند وکړئ کوم چې په يوه بله سيمه کې اوسيږي. خو بيا هم، که تاسې غواړئ چې په بل ښار يا د بريتانيې په بله سيمه کې له کوم کس سره ژوند وکړئ، ستاسې د کډوالې دوسيه بايد هلته انتقال شي او تاسې به اړ ياست چې په بله سيمه کې راپور ورکړئ.

**که تاسې د بريتانيې په داسې يوه سيمه کې اوسيږئ چې د ځای بدلولو لپاره له UKBA څخه د اجازې اخيستلو غوښتنه کوي، تاسې بايد له هغوی نه د ليکل شوې اجازې له تر لاسه کولو مخکې خپل ځای بدل نه کړئ. له اجازې پرته د ځای بدلول کيدای شي ستاسې د پناه غوښتنې په دوسيه باندې اغيزه ولري.**

**که تاسې مطمين نه ياست چې د ځای له بدلولو مخکې له UKBA څخه اجازې اخيستلو ته اړ ياست که نه، له خپلې نيژدې د کډوالو ادارې څخه مشوره وغواړئ.**

نورې ژباړل شوې پاڼې په لاندې ويب پاڼه کې ترلاسه کولای شئ: http://languages.refugeecouncil.org.uk

OISC No: N200100132
Community Legal Service

Asylum Support Partnership is a partnership project hosted by the British Refugee Council
British Refugee Council, (commonly called the Refugee Council) is a company limited by guarantee registered in England and Wales, [No 2727514] and a registered charity, [No 1014576].
Registered office: 240-250 Ferndale Road, London SW9 8BB, United Kingdom, VAT no: 936 519 988

**د ځای له بدلولو مخکې نورې کومې خبرې باید په پام کې ونیسم؟**

- **55 برخه (Section 55 ) (هغه قانون چې UKBA ته اختیار ورکوي چې د نغدې مرستې له ورکولو څخه ډډه وکړي.)**

که تاسې بریتانیې ته له راسیدلو درې ورځې (72 ساعته) وروسته د پناه غوښتنې درخواست کړې وي او غواړئ چې د یوازې نغدې مرستې لپاره درخواست وکړئ، ډېر احتمال لري چې تاسې د بریتانیې دسرحدونو ادارې UKBA سره د 55 برخې مرکه کولو ته ته اړ یاست.

**په دې مرکه کې به د بریتانیې د سرحدونو اداره UKBA دا لاندې ټکې په نظر کې ونیسي:**

- **ایا تاسې هر څومره ژر چې شوني او مناسب وه د پناه غوښتنې لپاره درخواست کړی دی**
- **آیا هغوی ستاسې د راتګ په اړه ستاسې په خبرو باور کوي**
- **آیا تاسې به له غیرانساني او له حقارت څخه ډک سلوک سره مخ شئ که ستاسې د ملاتړ غوښتنه د UKBA لخوا رد شي**

که چیرې UKBA دا پریکړه وکړي چې تاسې خپله د پناه غوښتنې ادعا په مناسب وخت کې (هر څومره ژر چې شوني او مناسب وه) دننه نه ده کړې، هغوی کیدای شي د یوازې نغدې مرستې له ورکولو څخه ډډه وکړي. تاسې د دې پریکړې په اړه د مرافعې غوښتنه نشئ کولای، خو سره له دې هم کولای شئ د بیا کتنې غوښتنه وکړئ.

- **قانوني مشورې ته لاسرسی**

که تاسې د بریتانیې کومې بلې سیمې ته ولاړ شئ، ستاسې اوسنی قانوني استازی کیدای شي درته ووایي چې هغوی نشي کولای ستاسې استازیتوب ته ادامه ورکړي.

د سکاټلنډ حقوقي سیسټم د بریتانیې د نورو برخو له حقوقي سیسټم سره توپیر لري. که ستاسې دوسیه تر قضایي بیا کتنې (Judicial Review) لاندې وي یا هم د سکاټلنډ د سترې محکمې (Court of Session in Scotland) تر مرافعې لاندې وي، موږ په کلکه مشوره درکوو چې د بریتانیې بلې برخې ته د انتقال لپاره د درخواست ورکولو مخکې له خپل قانوني استازي سره په دې اړه بحث وکړئ..

- **د سفر لګښتونه**

که تاسې د خپل ځای د بدلون پریکړه وکړئ، UKBA به ستاسې د سفري لګښتونو په برخه کې مرسته ونکړي او تاسې باید د سفر لګښتونه په خپله غاړه واخلئ.

**که د ځای تر بدلون مخکې له UKBA څخه د اجازې په اخیستلو باندې مکلف یم، زه باید څه وکړم؟**

تاسې باید یو لیکل شوی غوښتنلیک چې ستاسې لخوا لاسلیک شوی وي UKBA ته ورکړئ. همدا رنګه تاسې باید لیکل شوي شواهد د خپل ملګري یا کورنۍ غړي لخوا وړاندې کړئ چې دا خبره تصدیق کړي چې هغوی تاسې ته د اوسیدلو اجازه درکوي.

که ستاسې ملګری یا د کورنۍ غړی د هستوګنځي څښتن وي، هغوی باید یو لیک وړاندې کړي چې دا لاندې ټکې څرګند کړي:

- د خپل هستوګنځي څښتن دی او تاسې ته له هغوی سره د اوسیدلو اجازه درکوي
- له تاسې دا تمه نه لري چې د کرایې یا د ګاز، بریښنا او اوبو (د ژوند اسانتیاوې) د بلونو په ورکړه کې برخه واخلئ، او
- یوازې هستوګنځی تاسې ته درکولای شي او نشي کولای چې نور مالي ملاتړ وکړي.

هغوی باید همدا رنګه دا لاندې اسناد وړاندې کړي:

- د ژوند د اسانتیاوو (ګاز، برېښنا، اوبه) یو بل، چې د هغوی نوم او پته ښکاروي؛ او
- د کور د ملکیت سند، د مثال په توګه د ګروي (mortgage) سند

که ستاسې ملګری یا د کورنۍ غړی خپل هستوګنځی په کرایه نیولی وي، هغوی باید دا لاندې اسناد وړاندې کړي:

- د هغوی د هستوګنځي د څښتن لخوا لاسلیک شوی لیک چې تاسې ته دا اجازه درکوي چې له خپل ملګرې سره په یاد شوي هستوګنځي کې ژوند وکړئ
- ستاسې د ملګري لخوا لاسلیک شوی لیک چې دا خبره تصدیق کوي چې هغوی کولای شي له تاسې سره مرسته وکړي او دا تمه نه لري چې په مالي توګه د هستوګنځي په کرایه یا بلونو کې مرسته وکړئ او
- د ژوند د اسانتیاوو (ګاز، برېښنا، اوبه) یو بل، چې د هغوی نوم او پته ښکاروي.

**موږ څنګه کولای شو مرسته وکړو؟**

د کډوالو ادارې کولای شي له تاسې سره UKBA ته د لیکل شوې غوښتنې په وړاندې کولو کې مرسته وکړي چې تاسې غواړئ له خپل ملګري یا کورنۍ سره ژوند وکړئ. ستاسې د UKBA د اوسني هستوګنځي برابرونکي باید وکولای شي چې تاسې ته ووايي چې ستاسې د کډوالو اداره چیرې ده، یا تاسې کولای شئ د راتلونکي پاڼې په پای کې ورکړ شوي د ویب سایټ ادرسونه وکاروئ.

که تاسې اړ یاست چې UKBA ته د خپلو اړیکو نوې تفصیلات ورکړئ یا په حالاتو کې بدلون راغلي وي، تاسې کولای شئ تر ټولو نیژدې د کډوالو ادارې سره اړیکي ونیسئ.

**وروسته څه کیږي؟**

که تاسې له کورنۍ یا یوه ملګري سره د ژوند کولو د اجازې لپاره درخواست ورکوئ، دا کیدای شي څو اونۍ وخت ونیسي چې UKBA ستاسې غوښتنه پروسس کړي. UKBA به د خپلې پریکړې په اړه تاسې ته په مستقیم ډول خبر درکړي.

که د څلورو اوونیو تر تیریدلو وروسته بیا هم تاسې له UKBA څخه کوم ځواب ترلاسه نه کړئ، مهرباني وکړئ او د کډوالو له کومې ادارې سره خبرې وکړئ.

که ستاسې د ځای بدلولو غوښتنه ومنل شي، UKBA به په مستقیم ډول تاسې ته خبر درکړي او له تاسې به وغواړي چې د خپل انتقال د دقیقې نیټې په اړه هغوی ته خبر ورکړئ. له هغه وروسته به هغوی ټول لیکونه ستاسې نوې ادرس ته لیږي.

که تاسې نوې ځای ته انتقال شئ او وروسته د خپل ملاتړ په اړه له ستونزو سره مخ شئ، باید خپل نوې ادرس ته تر ټولو نیژدې د کډوالو ادارې سره اړیکي ونیسئ، نه د خپل پخواني ادرس د کډوالي ادارې سره.

Asylum Support Partnership consists of:

North of England Refugee Service, charity number: 1091200 www.refugee.org.uk
Refugee Action, charity number: 283660 www.refugee-action.org.uk
Refugee Council, charity number: 1014576 www.refugeecouncil.org.uk
Scottish Refugee Council, charity number: SC008639 www.scottishrefugeecouncil.org.uk
Welsh Refugee Council, charity number: 1102449 www.welshrefugeecouncil.org